بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سر یال نمبر: 487

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# لکی مروت؛ د خیبر پښتونخوا پولیسو د خوارج خلاف لویه بریا دريِ خوارج په شمول تر ټولو مطلوب ترهګر وژلی دی

د لکی مروت په مضافاتو عبدالخیل کښي د خفیه اطلاع په بنیاد پولیس او سی ټی ډی د ګډو کاروائي په نتیجه کښي د مطلوب سرغنه په شمول دری خوارج وژلی دی۔

**تفصیلاتو ترمخه د ترهګرو د موجودیت په اړه د اطلاع په ترلاسه کولو سره د پولیسو او سي ټي ډي ګډو ټیمونو د شیخ بدین په نوم په ډیره سخته غرنۍ سیمه کې د ترهګرو پټنځای محاصره کړ او د تېښتې لارې یې په ګډه تګلاره بندې کړې۔ د ډزو په تبادله کښې د ترهه ګرو د مطلوب مشر زبیر په شمول درې ترهګر وژل شوی او دوه ترهګر سخت ژوبل شوی دی۔**



**د وژل شوو ترهګرو تعلق د ټي ټي پي ټیپو ګل ډلې سره دی، کوم چې د امنیتي ځواکونو په ضد په ورانکارۍ، هدفي وژنو او ګڼو ترهګریزو عملیاتو کې لاس درلود او په ګڼو کیسونو کې پولیس مطلوب وو۔ د خورا مطلوب ترهګر مړینه بې له شکه د خیبر پښتونخوا د پولیسو د لوی بریالیتوب او مسلکیتوب ثبوت دی۔**

د خیبرپښتونخوا پولیس د نورو امنیتي ادارو سره په مروت او د هغې په شنډه کې د خوارج په له منځه وړلو کې په پوره حوصلې او مسلکیتوب سره بوخت دي۔ د خیبرپښتونخوا پولیس په خاصه توګه سي ټي ډي د دې کامیاب عملیاتو لپاره د ستاینې مستحق دي۔ انشاءالله د خوارج پر وړاندې به د بریالیتوبونو لړۍ دوام مومي۔

مورخه: ۱۵ مارچ ۲۰۲۴ء